# کله چې الله تعالی له یوه بنده سره مینه وکړي، نو جبرائیل راوغواړي او وفرمايي: زه د فلاني سره مینه لرم، نو ته هم ورسره مینه وکړه، وايي: نو جبرائیل هم ورسره مینه وکړي

له ابو هريرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «کله چې الله تعالی له یوه بنده سره مینه وکړي، نو جبرائیل راوغواړي او وفرمايي: زه د فلاني سره مینه لرم، نو ته هم ورسره مینه وکړه، وايي: نو جبرائیل هم ورسره مینه وکړي بیا په آسمان کې غږ وکړي او وايي چې: الله تعالی له فلاني سره مینه لري، نو تاسې هم ورسره مینه وکړئ، نو د آسمان خلک هم ورسره مینه وکړي، او وروسته ورته د ځمکې په خلکو کې هم محبوبيت پيدا شي، او کله چې یو بنده بد وګني، جبرائیل را وبولي او وفرمايي: زه فلانی بد ګڼم ، نو ته يې هم بد وګڼه، نو جبرائیل يې بد وګڼي، بیا د آسمان په خلکو کې غږ وکړي چې: الله تعالی فلانی بد ګڼي، نو تاسې يې هم بد وګڼئ، نو د آسمان خلک يې هم بد وګڼي، او د ځمکې په خلکو کې به هم ورته کرکه پیدا شي».

[صحيح دی] [صحيح مسلم]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې کله الله تعالی یو مؤمن بنده خوښ کړي؛ هغه چې د هغه د امرونو تابع وي او له نواهیو څخه يې ډډه کوي، نو جبرائیل ته اواز وکړي چې: الله تعالی له فلاني سره مینه لري، نو ته ورسره هم مینه وکړه. نو د ملايکو سردار؛ جبرائيل علیه السلام يې خوښ کړي او محبت يې ورسره پيدا شي، بیا جبرائيل د اسمان په ملايکو کې غږ وکړي چې: ستاسو رب له فلاني سره مینه لري، نو تاسې هم له هغه سره مینه وکړئ، نو د آسمان خلک به يې خوښ کړي، او بیا ورته د مؤمنانو په زړونو کې په محبت کولو، هغه ته ليواله کېدلو او ورڅخه په راضي کېدلو سره مینه پیدا شي. او که الله تعالی له یوه بنده نه کرکه وکړي، نو جبرائیل به را وغواړي (ورته به ووايي چې): زه له فلاني څخه کرکه کوم، نو ته هم ترې کرکه وکړه، نو جبرائیل به يې هم بد وګڼي، بیا جبرائیل د آسمان په خلکو غږ وکړي چې: ستاسو رب له فلاني څخه کرکه کوي، نو تاسې هم ترې کرکه وکړئ، نو د آسمان خلک هم له هغه نه کرکه وکړي، او وروسته د مؤمنانو په زړونو کې د هغه لپاره کرکه او بد ګڼنه پيدا شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6458